DAILY
ارادهٔ
دافغان نشراتي مرکزملي خپلواکه ورځپانه
سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ ش

سال ششم شماره ۱۱۷
شماره مسلسل ۹۸۴
شنبه ۲ ثور ۱۳۸۵ هـ. ش
۲۴ ربیع الاول ۱۴۲۷ هـ ق
22 April, 2006

PROPERTY OF ACKU
AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

د هیواد د نوې کابینې ۲۰ کسان ومنل شول

د هیواد په ولسي جرګه کې د ولسمشر حامد کرزي له خوا کابینې ته د نومول شویو کسانو لپاره رایه تر ډیره له هیلو خلاف وه. داسې باورونه او اټکلونه وو چې په ولسي جرګه کې به ځینې ډلې له ولسمشر کرزي سره د مخالفت په هیله د دوی وړاندیز شوي کسان رد کړي. خو په پای کې یوازې پنځه کسان رد شول او په مهمو څوکیو باندې د ولسمشر نومول شوي وزیران ومنل شول. په هغو کسانو کې چې پاتې راغلل ښاغلیو رهین او فرهنگ ښایي تر ټولو مشهور وو. دوی دواړه د طالبانو د رژیم له نسکوریدو راهیسې د ولسمشر کرزي په کابینو کې په پرله پسې توګه په خپلو څوکیو پاتې وو. پاتې درې رد شوي کسان نوي وو. د سوداګرۍ او صنایعو لپاره نومول شوی وزیر ډاکټر محمد حیدر رضا، د ټرانسپورټ او هوایي چلند وزیر ګل حسین احمدي او د ښځو د چارو وزیره ډاکټره ثریا رحیم صبحرنګ ونه توانیدل چې له ولسي استازیو رایه واخلي. د مخابراتو وزیر امیرزی سنګین، د کډوالو وزیر استاد اکبر اکبر او د ښار جوړولو وزیر انجینیر یوسف پښتون ونه کولای شول چې له اصولو سره سم په سلو کې تر ۵۰ ډیرې رایې وګټي. د دې له امله لانجه پیدا شوه خو په پای کې پریکړه دا وشوه چې ممتنع رایې له حسابه وباسي او په کاریدلیو رایو کې بسنه وباسي ۴مخ

درجلسه روز پنجشنبه ولسی جرگه

قرار است نماینده گان ولسی جرگه درمورد سه تن ازوزیران کابینه که رای لازم را بدست نیاورده وتائید صلاحیت شده اند فردا بحث کنند. براساس ماده ۱۰۶ قانون اساسی کشور فیصله ها باید براساس اکثریت آرای حاضر درمجلس اتخاذ شود.

درماده ۱۰۶ قانون اساسی افغانستان آمده است که رسمیت جلسه ولسی جرگه با حضوراکثریت آراء، وفیصله ها براساس رای اکثریت آرای حاضر درمجلس اتخاذ میشود. درجلسه روز پنجشنبه ولسی جرگه ۲۴۴ تن ازنماینده گان حاضر وچهارتن دیگر غیر حاضر بودند، بنابرآن هر نامزد وزارت باید ۱۲۳ رای را بدست می آورد، اما امیرزی سنگین نامزد وزارت مخابرات ۱۲۰ رای موافق ۱۰۸ رای مخالف و ۱۶ رای ممتنع، اکبر اکبر نامزد وزارت مهاجرین ۱۱۸ رای موافق، ۱۰۲ رای مخالف و ۲۳ رای ممتنع، ص۴

دستگیری افراد القاعده درپاکستان

نیروهای امنیتی پاکستان از دستگیری شماری از افراد شبکه القاعده خبر داده اند، افراد یاد شده درحالی بازداشت شدند که نیروهای امنیتی آن کشورسه روز پیش سفیر پیشین طالبان دراسلام آباد را دستگیر کرده بودند.گفته میشود دو تن از اتباع افغانی نیز درمیان بازداشت شده گان شامل هستند. یک تن از باشنده گان منطقه باجور پاکستان به آژانس خبری پژواک گفته است که نیروهای امنیتی پاکستان درادامه یک عملیات تصفیوی درین منطقه به منزل یک افغان رفته واورا با مهمانش بازداشت کرده اند. به گفته این شخص فرد بازداشت شده از باشنده گان ولایت کنر است وبه اتهام همکاری با القاعده وطالبان دستگیرشده است.یک مقام امنیتی دولت پاکستان که نخواست نامش افشاء گردد به آژانس خبری پژواک گفته است که تحقیقات ازدو تن افغان آغاز شده است وی از دادن جزئیات بیشتر درزمینه خودداری کرد.

حمله طالبان بریک پوسته درکندهار

شش تن ازنیروهای پولیس شاهراه ویک تن از نیروهای امریکایی درولسوالی میوند ولایت کندهار کشته شدند. دگروال علم نورخان قوماندان پولیس شاهراه ولایت کابل کندهار میگوید که این رویداد درنتیجه یک حمله طالبان بر پوسته نیروهای پولیس صورت گرفته است.

به گفته قوماندان پولیس شاهراه موادخوراکی مسموم کننده برای سربازان پوسته توسط اهالی منطقه داده شده که بعداً طالبان بالای شان حمله نموده سلاح ،مهمات وموتر آنها را طالبان با خود برده اند. وی اضافه نمود که در حال حاضر چند تن افرادمشکوک درمنطقه بازداشت شده که درین زمینه تحقیقات جریان دارد.

بیاهم په ښوونځي کې چاودنه

د کندهار ولایت د سپین بولدک ولسوالۍ په یوه ښوونځي کې د چاودنې له امله د هغه ښوونځي دوه خوني ورانې شوې خو مرګ ژوبله نه دی اړولی. ۴مخ

دستگیری پنج تن از طالبان درغزنی

نیروهای اردوی ملی پنج تن از افراد طالبان را دریک عملیات تصفیوی درولسوالی اندر ولایت غزنی بازداشت کرده اند.ص۴



په کندزکې دولس شکمن مخالفین وژل شوې

د کندز په ولایت کې د نړیوالو ائتلافي ځواکونو او افغان ملي پوځ د عملیاتو په لړ کې د ۱۲ تنو شکمنو دولتي مخالفینو د وژل کیدو خبر ورکړل شوی دی. ۴مخ

کشته شدن یک سربازامریکایی

یک سربازامریکایی در درگیری با شورشیان مخالف دولت در جنوب کشور کشته شد.درگیری زمانی آغاز شد که نیروهای مشترک امریکایی و افغانی، هنگام بازرسی یک انبار مخفی اسلحه، مورد حمله شورشیان قرار گرفتند.یک سرباز اردوی ملی نیز در این درگیری که در ولایت ارزگان روی داد، زخمی شد. ص۴



د ګڼو اړیکو خپرونکی خپرای په نامه

سرمقاله

رد ویا تائید هر وزیر با عوامل ودلایل معینی درپیوند است

جریان رأی دهی به کابینهء پیشنهادی با تائید بیست تن از وزراء ورد پنج وزیر، به غایلهء دوهفته یی آن پایان داد.

استنباطی که درپایان این جریان رایدهی میتوان بدان دست یافت، اینست که عوامل چندی درین جریان دخیل بوده اند.

هرچند برخی از نماینده گان پارلمان درمصاحبه ها وواکنشهای شان به رسانه های خبری از زدوبندهای پشت پرده سخن گفتند وآنرا نمایشی ازیک کمیدی دانستند ومهمانی ها و دعوت های «تفاهم» را مثال آوردند، ونیز از انبوه کارتهای دعوت مسوولین یاد آوردشدند اما جریان رایدهی، نزدیکی ارقام رای وزیران، کتگوریهای رای های «تایید» و«رد»، نزدیکی آنها با همدیگر واشخاص مردود شده عوامل خاص ومعینی را نشان میدهد.

چنانیکه اعمال نفوذ ها وتائید وتاکید مقامات قوهء اجرائیه، حمایه های تنظیمی وقومی از برخی وزراء وعدم حمایه از برخی دیگر بخوبی مشخص میتواند شد.

با آنکه برخی از ناظران رسانه ها دلایل دیگری را عنوان میکنند، با آنهم برسبیل پرسش یک نکته را نمیتوان نادیده گرفت وآن اینکه چه دلایلی وجود داشت که برخی از وزرای دیگر توانستند رأی تائید واعتماد را بدست آورند، آیا معیار نماینده گان ملت واقعاً چه بوده است؟ شایسته سالاری؟ مدیریت خوب؟ کارکردهای درخشان وپشمگیر؟ ویا مسایل دیگری که ما نمیدانیم!

با اینهمه یک حقیقت نباید ناگفته باقی بماند که بازهم نماینده گان ملت تا حدود زیادی رسالت تاریخی شانرا پاس گذاشتند. زیرا فشارها واعمال نفوذ ها وحتی صحبت های تحکم آمیز مبنی براینکه : «... این کابینه یگانه وآخرین کابینه یی خواهد بود که پیشنهاد شده ووکلای پارلمان مکلف هستند، آنرا تائیدنمایند ...»

را تحقق نبخشیدند ومسوولیت وصلاحیت قانونی خود را جامهء عمل پوشیدند.

باید پذیرفت که درگزینش ورد هریک از وزراء عوامل و دلایل معین ومشخص درکار بوده است.

اکنون که آقای رئیس جمهور پنج وزیر دیگررا به پارلمان معرفی میکند، مردم انتظار دارند که دروضعیت کنونی ودرشرایط حساس کم ازکم درگزینش همین وزراء از مصلحتهای معمول صرف نظر کند. زیرا درچهار سال گذشته آمیختگی وآویختگی ما با مصلحت ها وهزاران وعدهء نافرجام دیگر، حالت دشوار ونا به سامانی را به میان آورده است.

چرا که مصلحت یک جهت را راضی میسازد، اما واقعبینی میتواند تضمین برای بهشد امور باشد!

حکومت پاکستان ازتشنج حمایت میکند تا ازصلح

محمد قیس

اوضاع واحوال جاری درسرحدات شرقی وجنوبی افغانستان یکبار دیگر نشان دهنده آن است که جریان رویداد ها و حوادث که دراین مناطق بوجود آمده و می آید ، هیچگاه به سود صلح ، ثبات وامنیت درافغانستان ومنطقه نبوده وبرای تحقق اهداف صلح جویانه افغانها و قبایل آن طرف خط نام نهاد دیورند،مساعدت وکمک نمی رساند، تا جائیکه شواهد ثابت ساخته درادامه تشنج این مناطق حکومت پاکستان ودستگاه اطلاعات نظامی آن I.S.I دست دارد.

حکومت پاکستان این امکانات را که تشنج دراین مناطق ادامه یافته میتواند ازسالهای پیش بدست آورده است تا بتواند درزمان های دلخواه آن را به کار ببندد.

سوال مطرح میگردد که پاکستان چرا از دوام تشنج درافغانستان حمایت میکند تحلیل گران وکارشناسان را عقیده برآن است که حکومت پاکستان قصد دارد تا درمسایل اقتصادی ، سیاسی ونظامی افغانستان نقش مهم داشته باشد.

اما گذشت زمان وتغییر شرایط سیاسی پاکستان را از رسیدن ودست یافتن به این هدف هر روزه دورتر میسازد.

پاکستان همین اکنون شکست سیاست ها واهداف خود را بوضاحت مشاهده میکند . یکی اینکه پاکستان دروجود آقای حکمتیار نتوانست، ایده کن فدریشن افغانستان را با پاکستان درعمل پیاده نماید وافغانستان را ازلحاظ سیاسی، اقتصادی ونظامی با پاکستان پیوند بدهد وتمام مسایل افغانستان در اسلام آباد مرکز پاکستان اداره شود دیگر اینکه زمانی که این سیاست به ناکامی گرائید، پاکستان پروژه دیگری را طرح وبنیادگزاری کرد که همان پروژه طالبان میباشد تا به کامیابی این پروژه درافغانستان، کشور افغانستان به ایالت پنجم پاکستان مبدل گردد.

درآن صورت یعنی درصورت دست یافتن به هدف دومی ، پاکستان میتوانست تا ایده ای (عمق ستراتیژیک) خود رابه پیروزی برساند ومیتوانست با کامیابی این پروژه ، سلاح های بزرگ ومهم خود را به خاک افغانستان عقب بکشد وازکوه های بلند افغانستان خاک هند را میتوانست با آرامش نشانه گیری نماید وبدین صورت میتوانست سلاح های دور برد خود را از برد آتش سلاح های هند درفاصله های دورتر از محلات امروزی آن مستقر نماید.

اما حمله ایکه عمارات بلند تجارت درنیویارک وحمله پنتاگون، پیروزی این پروژه را درافغانستان دگرگون ساخت وپاکستان را درموقعیت نامناسب وخلاف آرزو قرار داد که تاهنوز نمیتواند با قاطعیت وصداقت درمبارزه علیه تروریزم فعالانه شرکت نماید. زیرا نمیخواهد شکست خود را درپروژه ایکه خود ایجاد کرده ، به چشمان بازمشاهده نماید و آن ستراتیژی را که حمایه مالی و نظامی میکرد یکسره از خود بداند و یا از دست بدهد وتاهنوز نمیخواهد تا ازسیاست های مداخله گرانه خود درافغانستان ،صرف نظر نماید.

حوادث درولایات جنوبی وشرق افغانستان یا ولایات هم مرز با پاکستان ، این واقعیت را بیشتر روشن میسازد که درپشت این همه حوادث ورویداد های بعمل آمده درگذشته ویا درآینده که رخ میدهد حکومت پاکستان قراردارد واین سیاست مداخله گرانه پاکستان تازمانی ادامه خواهد یافت که درپاکستان واقعاً یک حکومت ملی، بوجود نیامده باشد که هم برای مردم پاکستان دوست باشد وهم برای مردم همسایگان خود دوست باشد.

حمایت پاکستان از دوام تشنج درافغانستان فقط یک هدف را میتواند، انعکاس بدهد که همانا پیروزی از ایده، (عمق استراتیژیک) بوده ومیباشد. تا ازطریق حمایت ودوام تشنج درافغانستان بتواند به این هدف شوم ونظامی خود دست یابد.

همیشه مردم افغانستان وهم مردم پاکستان با این سیاست پاکستان کاملاً سرسختانه مخالفت کرده ومیکنند وآن را باعث بروز اختلافات میان دوکشور ودوری ازهمسایگی نیک وبرادری میدانند.

گمان میرود که دیگر پاکستان موقعیت قبلی خود را که دراستراتیژی های منطقوی داشت رفته رفته ازدست میدهد زیرا آن زمانیکه پاکستان میتوانست به حیث ژاندارم منطقه عمل نماید.

دیگر بگذشته پیوسته است حمایت جامعه جهانی ازافغانستان برای اعمار یک ا فغانستان نوین عقد قرار داد استراتیژیک افغانستان وامریکا وعقد قرار داد همکاری هند وامریکا که درجریان سفر اخیر رئیس جمهورامریکا به کشور هند صورت گرفت پاکستان تصورش را هم نمیکرد و قابل پیشبینی نبود رئیس جمهور امریکا حین سفر به اسلام آباد بعداز سفر به هند وعقد قرار داد همکاری با هند گفت که من آمده ام تا ببینم که پرویزمشرف درمبارزه علیه تروریزم چه کرده است؟

اظهارات بعمل آمده قبل ازهمه ازقرار گرفتن پاکستان دریک موقعیت ضعیف کاملاً حکایه دارد سفر رئیس جمهور امریکا به افغانستان وهند وبعداً به پاکستان میرساند که پاکستان آهسته آهسته جایش را دراستراتیژی های سیاسی ونظامی منطقه برای ابرقدرت جهانی دارد که ازدست میدهد وآن روزهای که بالای پاکستان به حیث متحد سیاسی ونظامی حساب میگردید.

دیگر گذشته وجو سیاسی موجود درمنطقه وجهان نیز میرساند که تغییر رژیم حکومتی دیگر ضرورت خود را درپاکستان بیشتر مطرح می نماید وانتخابات آینده جمهوری درپاکستان، بسیاری مسایل وسوالات را پاسخ خواهد داد وپاکستان را وارد مرحله جدید تاریخ خواهد نمود.

اما آن چه عمده ومهم میباشد ، همان نقش و سهم گیری مردم پاکستان ونیروهای ملی ودموکراتیک آنها میباشد که چگونه میتواند درآن انتخابات شرکت نمایند وچگونه میتوانند یک دولت مردم گرا، صلح دوست و با ثبات را باشرکت تمام نیروهای مردم دوست ووطندوست بوجود می آورند.

حوادث که امروز در وزیرستان وبلوچستان میگذرد ، بیانگر آن است که حکومت پاکستان چگونه باکار وفعالیت خود ثبات وآرامش را درپاکستان برهم میزند واین حکومت پاکستان است که چنین اوضاع را بوجود آورده ودوام خود را ازطریق آن حفظ میکند واین میرساند که حکومت های کودتایی نمیتواند مشکلات کشوری را حل نماید وخواست های مردم خود را پاسخ بگوید وخود بخود به ورطه شکست خود را میکشاند.

تشنجات که امروز درپاکستان و افغانستان جریان دارد درپشت سرآن ها حکومت پاکستان قرار دارد وپاکستان نسبت بداشتن وپیروی کردن از سیاست مداخله گرانه خود درامور داخلی افغانستان از تشنج درسرحدات افغانستان حمایت مینماید تا از صلح، ناآرامی های که درولایات شرقی وجنوبی افغانستان رخ داده ومی دهد ناشی از سیاست های غیر معقول وغیر سنجیده شده حکومت پاکستان نسبت به همسایه آن افغانستان بوده وتازمانی دوام خواهد کرد که حامیان این سیاست درحکومت پاکستان برکرسی قدرت تیکه زده باشد.

درحالیکه مردمان افغانستان وپاکستان با هم بردار ودوست یکدیگر بوده ومیباشند.

مداخلات حکومت پاکستان درامور داخلی افغانستان به نفع کشورها ومردمان دوکشور افغانستان وپاکستان نبوده واین مداخلات زندگی مردم افغانستان را درعرصه های اقتصادی واجتماعی تا هنوز مورد تهدید قرار داده ومیدهد وتازمانیکه نظامیان پاکستانی به سیاست های ضد افغانی خود ادامه بدهند تشنجات همچنان ادامه خواهد یافت وپایان این مداخلات وابسته به آن است که مردم افغانستان چگونه ازخود دفاع مینمایند ومردم پاکستان برای خود در انتخابات آینده کشور خود چگونه نظام سیاسی را برمی گزینند.

په افغانستان کې بیکاري د ثبات لپاره ستر ګواښ دی

نابلد

نړیوالو هغه وخت زموږ هیواد ته په یو لاس مخ راواړوه چې د القاعده او تروریستي عناصرو له خوا یې د خپل ځان لپاره خطرونه احساس کړل او اوس هم که چیرې زموږ له هیواد څخه دوی خپل رالیږلي قوتونه وباسي او یا خو خپلې ورسپارل شوی دندی سمی سرته ونه رسوي نو د القاعده او تروریستي عناصرو د بیا پرمختګ څرګندی نښی نښانی لیدل کیږي.

د ټولو هغو نړیوالو هیوادونو له خوا چې په افغانستان کې یې قوتونه موجود دی پدې باندې زیات فشار راوړي چې باید په افغانستان کې مخدره مواد بند شي ولسمشر کرزی هم څو څو ځلی دا خبره کړی ده چې د کوکنارو کښت او هیروئینو تولید د افغانستان نړیوال پرستیژ ته چې اوس یې د ترقی او پرمختګ په لاره ګام ایښی دی ستر زیان رسولی دی زموږ چارواکي او د نړۍ هیوادونه داسې فکر کوي چې په افغانستان کې د مخالفینو د فعالیتونو زیاتوالی له مخدره مواد راپیدا شوی دی ددوی په اند که چیرې مخدره مواد په افغانستان کې بند شي د مخالفینو فعالیتونه به شنډ او حالت به آرام شي له افغانستان نه د ناټو مسوولینو ته وړل شوی راپورونه هم په همدغه اند وکړي او خپلې ژمنې سرته ورسوي نو باید مخدره مواد د مسالی د حل په برخه کې زیات کار وکړی نوموړی جنرال دا هم زیاته کړی ده چې دا به تیروتنه وي چې څوک داسې تصور وکړي چې افغانستان د تند لارو اسلامي ډلو له خطر سره مخامخ دی.

که چیرې پورتینو خبرو ته ځیر شو دا سې لیدل کیږي چې په افغانستان کې د سولی او ثبات د راوستلو لپاره دخیل بهرنیانو ټولو تیروتنه کړیده او همدغه تیروتنه ده چې ورځ په ورځ په هیواد کې حالات خرابیږي او ان په مرکز کې هم خلک له پوره بې امنی سره مخامخ دي او د خلکو سر او مال په خطر کې شوی دی.

د نړیوالو ځواکونو، ملي پولیسو او ملي اردو له شته والی او دغه راز د استخباراتو د پراخی لمنی په شته والی د کابل ښار په زړه کې د جمهوري ریاست ترڅنګ په پوځي لباسونو کې د بانکونو پسې وړي او نشو بللای نورعوامل دي چې په افغانستان کې یې سوله او ثبات له جدي خطر سره خامخ کړی ده د ګاونډي معلوم الحاله هیواد په دننه کې تندلاری ډلی، د هغه استخباراتي پیاوړي زور تر هرڅه لومړنی تهدید او خطر دی چې غواړي په افغانستان کې القاعده او تروریستي ډلی د پرون په څیر قدرت ته د خپلو آینده ګټو په خاطر قدرت ته ورسوي د هغوی په مالي او



خاني زور یې حالات خراب کړي دي.

په هیواد کې د مخدره موادو د کښت او قاچاق مخنیوی د القاعده او تروریستي عناصرو زور نور هم ورزیات کړی دی.

په هیواد کې بیکاري واکمنه شوه بهرنی هیوادونه او یاد هغوی مسوول چارواکو یوازې یوه خبره په خوله کې اخیستی ده چې باید مخدره مواد باید بند شي چې افغانستان کې د سولی لپاره جدي خطر دی او زموږ مشران هم وچ وچه فرمانونه وباسي او کوکنار اړوي خو د چا د ژوند د جوړولو په فکر شوی ده او همدغه بیکاره او وزګاری ځوانان د تروریستي او القاعده عناصرو سره د لاس په یو کولو نور هم د حالت په خرابوالی کې رول لوبوي باید دا ومنو چې څومره په هیواد کې په مخدره موادو بندیز لګیږي او د بیکاری غم و نه خوړل شي ثبات او امن به له سترو خطرونو سره مخامخ وي، دا به ومنو چې د مخدره موادو ګټه زیاته قاچاقبرو ته ځي او تروریستي عناصر یې هم له ګټو څخه استفاده کوي خو داسې نه ده چې د جونز په خبره یوازې مخدره مواد یې اصلي علت وبولو.

که چیرې بهرنی هیوادونه او زموږ مسوولین غواړي چې په هیواد کې امن راشي سوله او ثبات ټینګ شي باید په هیواد کې د بیکاری حالت ختم کړای شي.

تر هغه چې دولتي او خصوصي تولیدي سکتورونه رامنځته نه شي او زموږ په زرونو زرونو ځوانان په کار بوخت نه شي مونږ د خپلو تولیداتو خاوندانو نشو موږ په ازاد بازار کې د نرخونو کموالی رانشي مونږ باید هیڅکله د ثبات او ارامی هیله ونه کړو، همدا اوس داسې اوازی هم خپری دی چې طالبان هغو ځوانانو ته چې ورسره د یوې میاشتی لپاره وجنګیږي ۵۰۰ ډالر ورکوي ویل کیږي ډیر ځوانان چې په نوبتي ډول ډیر ځوانان ورسره کار کوي اود خپلی کورنی خرڅ تری لاسته راوړي.

د داسې حالاتو او شرایطو په شته والي کې تر اوسه پورې بهرنیو مسوولنیو سم درک لاتیه دی کړی چې ووایي د تروریستي عناصرو په ګواښ کې بیکاری هم ستر رول لوبوي.

که غواړو چې امن راشي نو باید په هیواد کې د بیکاری په ختمولو سره د طالبانو جدي خطر تر ډیره حده کم کړو او هغه پدې توګه چې د مخدره مواد په مخنیوی سره زیاتی پیسې د تولیدي کارخانو په برخه کې او د اوبو د بندونو په جوړولو اود کار په پیدا کولو سره ولګوو.



باندې استواره دی.

د ناټو یو لوړ پوړی چارواکی جنرال جیمز جونز په لندن کې خبریالانو ته وویل چې په افغانستان د ثبات لپاره د طالبانو او القاعده تر خطر د مخدره موادو د سوداګری خطر زیات دی له بین المللی ټولنی څخه یې وغوښتل که چیرې غواړی د افغانستان د سولی او ثبات لپاره کار په ډاډه زړه تښتي دا او داسې نوری د ځان وژنی او مین الوځولو پیښې او داسې نوری درواخله.

جونز وړاندې وایي چې مخدره مواد ډیره جدي مسئله ده چې د افغانستان ثبات یې تر ګواښ لاندې نیولی دی مونږ د افغانستان په ثبات کې یوازې د مخدره موادو وجود د جدي خطر په توګه کې نه دی د بیکاری د ناوړو عواقبو فکر ورسره نشته.

د مخدره موادو په بندولو سره یې چاته کار پیدا کړی دی؟

تولیدلي فابریکې یې جوړی کړی دی؟

د اوبو سیستمونه یې فعاله کړی دی؟

بلکی دی ټولو پوښتنو ته د منفی ځواب په شته والی سره د خلکو ژوند خراب شوی بی روزګاری زیاته

د کوکنارو پرضد مبارزه، خنډونه او وړاندیزونه

شیر علم امله وال (ننګرهار)

له ډېرو پخوانیو زمانو راهیسې د نړۍ بېلا بېل هېوادونه د کوکنارو له کر سره اشنایي لري ، ځینې یې درمل او ځینې نور یې د نشه ییزو موخو (مقاصدو) لپاره ترې استفاده کوي ، چې دې بوټي څخه استفاده او پېژندنه تر میلادي پېړۍ له مخه پېل شوې.

تاریاک (اپیوم) د لمړې ځل لپاره د میلاد څخه مخکې مصریانو ، پارتیانو ، چینایانو ، دوخیانو او جاپانیانو د مخدره موادو په توګه وپېژندل . په نهمه میلادي پېړۍ کې عربي طبیبانو ، اپیوم په درملو کې استعمال کړ او پر ۱۲ م پېړۍ چین او قرمز کې د تاریاکو استعمال دود شو . ورو ، ورو یې انحصار ایراني پاچایانو ترس ته ولوېده ، چین خپل سرحدونه دې زهري مادې لپاره خلاص پرېښودل او له همدې ځایه ټولې نړۍ ته لیږدیدل د سایکالوژیکو تاثیراتو بنسټ د اروپایانو له خوا په چین کې اېښودل شوی ، تاریاک پر ۱۴۹۳ م کې سویس ، انګلستان ، المان او فرانسې د درملو لپاره تر مطالعې لاندې ونیول ، سرتونر Sertuner الماني درملګر (فارمسست) له تاریاکو څخه الکولوئید مورفین جلا کړه ، د مورفین له کشف سره د تاریاکو سوداګرۍ زیاته وده وکړه . او اسیا ته تاریاک د پرتګالیانو ، هالنډیانو ، هسپاناویانو او انګلیسانو له خوا راوړل شوې ، څرنګه چې تاریاک په درملو کې استعمالیده خوب راوړونکی او ارام راوړونکی اغیز یې درلود هماغه و چې بشر نشه ییزو مقاصدو لپاره استعمال کړل .

د مخدره موادو مارکیټ ، بازار ، غوښتنه او تقاضا د نړۍ په پرمخ تللو هېوادونو کې ده چې ۳۰ کاله وړاندې د افغانستان په لرو پرتو سیمو ، غرو ، رغو کې کوکنار کرل کېده خو د جګړو او مهاجرتونو له امله چې د افغانستان په اقتصادي ، سیاسي ، کلتوري او ټولنیز ژوند او چاپیریال کې ژور بدلونونه راغلل او د افغانستان د وخت دولت د حاکمیت ساحه ورو ، ورو تنګېدله او په سیمو کې د دولت دمخالفو قوماندانانو واک پراخېده قوماندان د بهرنیو د سیاسي ، مالي او پوځي ملاتړ څخه برخمن وو څرنګه چې مخکې یادونه وشوه په غرو ، رغو او لرې پرتو سیمو کې د کوکنارو کر موجود و هغه سیمې به چې د قوماندانانو تر ولکې لاندې راتلې د کوکنارو کر زیاتېده پدې ډول ددې بوټې کر او تجارت زیاد شو چې څومره به د قوماندانانو د واک ساحه پراخېدله هومره د کوکنارو کر او سوداګرې ډېرېده آن تر دې چې دولتي واک قوماندانانو لاس ته ورغي د کوکنارو کر عام او حتمي شو .

افغانستان د نړۍ د تاریاکو تولیدوونکو هېوادونو په سر کې ځای پیداکړ . د طالبانو د واکمنۍ په وروستیو کلونو کې د ملا عمر د فرمان له مخې د کوکنارو په کر بندیز ولګید ، خو تجارت یې لا ازاد روان ود ملاعمر تر مشرۍ لاندې دطالبانو تحریک منظم او مذهبي شکل درلود د مشر تابه اوامرو ته به حتمي ډول غاړه اېښودل کېده بله وجه یې مذهبي اثراورسوخ ګڼل کیدی شي خو کله چې پخواني قوماندانان یو ځل بیا دسیاست ډګر ته راغلل او د قدرت واګې ورته وسپارل شو یو ځل بیا د کوکنارو کر کې له عامه او زیاته شوه ، د یوې نړیوالې سروې له مخې چې په ۲۰۰۴ م کال کې د نړۍ ۸۷ % اپیوم په افغانستان کې شوې و او په اروپا کې استعمالیدونکی هیروینو ۹۰ % د افغانستان د کوکنارو څخه شمیرل کیږي .

څو کاله وړاندې کروندګرو ته د یو جریب کوکنارو په بدل کې ۳۵۰ امریکائي ډالره ورکول کیدل، چې دا مرستې د سیمه ئیزو قوماندانانو او چارواکو له لارې ویشل کیدې اړو او مستحقو دهقانانو ته ونه رسیدې او یا هم تر اوسه چې کومې وړې او غټې پروژې د کوکنارو د له منځه وړلو په منظور تر سره شوې اغیز منی نه دې ثابتې شوې .

اوس بیا د افغانستان دولت ، امریکا متحده ایالات ، انګلستان او نور مرستندویه هیوادونه د کوکنارو پر ضد دمبارزې ډګر ته راوتلې چې له ځینو خنډونو او چلنجونو سره مخامخ دي . غواړم پدې لیکنه کې هغو لاملونو او خنډونو ته اشاره وکړم چې تر اوسه موجود دي او همدارنګه د دې ستونزې د حل لپاره ځینې وړاندیزونه وړاندې کړم .

لاملونه یا علتونه :

۱- د کرنیزو مخکو نشتوالی او لږوالی ،د افغانستان ۸۰ % ساحه غرونو نیولې ۵ % زراعتي ځمکه او ۱۵% شاړې او دښتې دي .

۲- د اوبو خورد منظم نظام نشتوالی

۳- څوکلنه دوام داره وچکالي

۴- په هېواد کې د بیسوادۍ د کچې لوړوالی

۵- بې کاري او بې روزګاري

۶- د نشه یې توکو له بهرنیو قاچاقبرو سره د افغانانو اشنایي .

۷- نورو زراعتي محصولاتو لپاره په نړیواله کچه د مارکیټ نشتوالی

۸- د نفوسو زیاتوالی

دا خو هغه لاملونه او علتونه دي چې تر اوسه په طبعي ډول پدې هېواد کې موجودې دي او یا هم د چارواکو د نه پاملرنې له امله د زیاتېدو په حالت کې قرار لري خو ترڅنګ یې نور خنډونه او چلنجونه هم شته چې باید ترې یادونه وشي ، چې د مخدره موادو په کر او سوداګرۍ کې ځانګړې اهمیت او اغېز لري

۱- د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د هېواد په ټولو برخو کې نه حاکمیت او لږ اغېز

۲- د ملي پولیسو او ملي اردو د روزنې او جوړونې د بهیر سستوالی او لږ والی.

۳- په دولتي ادارو کې د اداري فساد زیاتوالی

۴- دولت پروګرامونو ته د دولتي چارواکو نه هوډ منتیا نه ژمنتیا او بې وفایي.

۵- له قاچاقبرو سره د دولتي چارواکو لاس

۶- کروندګرو ته د بل بدیل فصل نه وړاندې کول

دا یوه ستونزه ده ، داسې هم نه دی چې هېڅ د حل لاره نلري که واقعا د افغانستان دولت او ورسره نړیوال مرستندویان غواړي چې په نړیواله کچه د تاریاکو سوداګرې او کر بند کړي لمړې دې باید هغه لاسونه لنډ کړي چې دا توکې په ګرانه بیه رانیسي او بیا یې اسیائي ، اروپائي او خلیجي هېوادونو ته یې لېږدوي او هلته یې ورته ښه ګرم بازار او مارکیټ جوړ کړی دی په بل عبارت باید د تاریاکو تقاضا له منځه یوړل شي ، کله چې تقاضا له منځه لاړه شي عرضه پخپله له منځه ځي یاني دا چې د نړیوالې مافیا جرړې دې له بېخه وویستل شي .عجیبه او حیرانونکی خو داده چې نړیوال سازمانونه او د افغانستان دولت څرګندلي اعلان کوي چې د مخدره موادو په قاچاق کې ځینې سیمه ییز او لوړ پوړې دولتي چارواکي لاس لري خو تر اوسه یو وزیر ، والي او یا هم بل کوم سیمه ییز واکمن پدې تور ونه نیول شو له دندې ګوښه نشو او نه هم سزا ورکړل شو زما له نظره د هېواد په ټولو برخوکې د مرکزي حکومت نه کنترول او د دولتي چارواکو له خوا د مرکز اوامرو ته نه غاړه اېښودل دی .هیله ده چې حامد کرزی چې یو تاکل شوې ولسمشر دی د هغه چارواکو لست د ولس استازوته وړاندې کړې او هم هغو دولتي چارواکو ته سزا ورکړې چې د مخدره موادو په قاچاق کې ککړ دي تر څو د ولس ریښتینی باور پر دولت نور هم زیات شي په بې ځایه وعدو ، غورځو ، پرځو هېڅ هم نه کېږي

د وران کارو د ورانۍ مخه باید ونیول شي

عبداللطیف مهتاب

د افغانستان غیور او میړنی ولس چې څه نا څه دیرش کاله یې په جنګ او جګړو کې تیر شوی او زیات مالي او بشري تاوانونه ورسیدلي دي په اوس وخت کې دی ته سترکې په لاره دي چې په امن کې ژوند وکړي اود خپل ژوندانه راتلونکی شیبی په کار او زیار باندې سرته ورسوي تر څو د موجوده فقر او بدبختۍ نه خلاصون ومومي او د راتلونکي له پاره په ډېرو ستونزو لاس بری شي خو دریغا چې د هیواد د دښمنانو له خوا زیات کړاوونه ورته پیدا کیږي او دوی نه شي کولای چې په ډاډه زړه خپلې دندې سرته ورسوي.

اوس هم زموږ د زیاتو ولسوالیو ورونه ددوی د لاسه د زیاتو کړاوونو سره مخامخ دي چې د هلمند ولایت د موسی کلا د ولسوالۍ د ولسوال او د یوه پولیس وژل اود همدې ولایت د سنګین د ولسوالۍ د پنځو تنو پولیسانو وژل زموږ د قول ثبوت ګڼل کیږي چې ددی ناروا کار په تر سره کولو سره اوس هم زموږ زیاتره هیوادوال د ویرې سره لاس په ګریوان دي.

ایا ددغه ګواښونو په وړاندې د دولت چوپتیا به ددوی په کمزوری باندې دلالت ونه کړي؟

زموږ په هیواد کې په زرګونه بهرنی قوتونه د امنیت د راوستلو له پاره د هیواد په ولایتونو او ولسوالیو کې په کار لګیا دي نو بیا ولې د دوی مخه نه نیول کیږي چې هره ورځ زموږ وطنوالو ته د کار په غولی کې ستونزې را ولاړیږي او بیا یې د مرګ سبب کیږي.

د دومره خپل سریواو بې سریو په څنګ کې باید له دوی نه وپوښتل شي چې دغه ویرانۍ د څه له پاره ی او ولې د وطنوالو خوږ ژوند په لوی لاس د ګواښونو سره مخامخ کوي خو وجه داده چې ددوی تر شاه د دښمن لاس دی او دښمن نه غواړي چې دافغانستان خوار او بیوزلی ولس دی په ډاډمن زړه د ژوندانه غوښتنو ته ځوابونه وایي او یا دی د خپل ژوند د سنبالولو له پاره په اقتصادي حرکتونو باندې خپل ژوند پر پښو ودروي.

امن او امنیت د ژوندانه سوال دی لکه څنګه چې ماهی له اوبو نه پرته ژوند نه شي کولای په همدې توګه انساني ژوند د امنیت نه پرته د زیاتو ګواښونو سره مخامخ کیږي.

نو ځکه د افغانستان د اسلامي جمهوریت د کورنیو چارو وزارت او د امنیت لوی ریاست مسئولیت باید د ژوندانه دغه مهم اصل ته خپله پاملرنه را واړوي او خپلو افغاني ورونو ته د پوره هوساینې او ارامۍ زمینې برابرې کړي تر څو دوی وکولای شي چې په ډاډه زړه له یو ځای نه بل ځای ته تګ راتګ وکړي او خپلې ورځنۍ دندې د پوره امن په فضا کې سرته ورسوي، که چیرې په دې برخه کې په جدي او بیړنیو اقداماتو لاس پورې نه شي نو لیرې به نه وي چې موجوده فضا نوره هم خړ پړتیا پیدا کړي او دخلکو ژوند همدله زیاتو ستونزو ناخوالو سره مخامخ شي.

ښه به دا وي چې مسئولین خپلې دندې په پاکې سره سرته ورسوي او له دې لارې نه د خپلو غریبو وطنوالو ژوند د هر ناروا عمل نه مصئون وساتي.

نامه وارده

به اداره محترم روزنامه وزین اراده!

با ابراز قدردانی و سپاس از برادر محترم آقای سهراب دیدار مدیر مسوول و سایر دست اندر کاران آن روزنامه امیدواریم در نشر این نامه که نمایانگر اراده ملت افغانستان است یاری رسانیده ممنون فرمایند:

ریاست دولت جمهوری اسلامی افغانستان نتوانست طی یک سال وچند ماه وحتی دوره تقریباً کمتر از پنج سال با تشکیل پارلمان کابینه را به ملت پیشکش نماید که دارای مدیریت تخصص و از تجارب گذشته انچه مردم توقع داشتند جهت اخذ رای اعتماد به پارلمان ارایه نماید طوریکه ملاحظه میشود صرف تغییرات نمایشی بر پایه همان کسانیکه قبلاً در سطح اداره و رهبری کشور قرار داشتند با تفاوت جا و بی جا شدن انها از یک پست به پست دیگر بوجود امده به هر حال ما در استانه نظام دموکراسی که متضمن سعادت و شگوفایی جامعه را در بر دارد به پیش میرویم.

اگر شیوه و رفتار کردار دموکراسی را اینطور وصف دهیم باور داریم ارزش های عملی د موکراسی واقعی را متاسفانه بی کیفیت تعقیب و دنبال مینمائیم که این عمل ما را د ربرابر مردم و ملت بخاطر عدم اصل اصول ان مراعات نگردیده و صرف بنام که با چه مشقات و رنج های بیکران کشورهای جهان در عرصه بازسازی کشور ما را یاری رسانیده اند مسایل را کم بها جلوه دهیم بهتر است تا اشخاص و افراد با تجارب متخصص و کار ازموده را چه در سطح داخل کشور و چه در سطح خارج کشور جستجو و از ایشان منحیث یک افغان کارشناس، وطن پرست و وطن دوست که در کارایی مهارت های زنده وسازنده را در طول زمان دوره های متعدد سلاطین انجام داده باشند دعوت بعمل آورده شود تا برای ملت و مردم زجر کشیده خود صمیمانه و دلسوزانه وار د میدان شده از تیم موجود که همین اکنون وارد میدان اند وطی پنج سال هیچ دست آوردی که نمادی از فعالیت های چشمگیر شان نصیب ملت شده باشد به ارمغان نیاوده اند البته چانس دوم بخاطر سرنوشت سازی کشور و جامعه ما به ایشان بدور از واقعیت پنداشته میشود اگر شود یقین داریم آنچه کمک های که از طرف جوامع بین المللی بخاطر بازسازی کشور صورت گرفته است بر علاوه آنکه مشاهدهء از عمران و ترقی و پیشرفت کشور در آن نموداز نخواهد شد. بلکه یک تعداد از هموطنان غریب و بیچاره و بی وسیله ما همچنان بیچاره تر و به دیار بی گانه گان بخاطر معیشیت زندگی شان پناهنده خواهد شد زیراً بخوبی مشاهده مینمائیم که طی مدت هزاران هزار مردم ما اگر به دستگاه دولت شامل کار بودند و یا شغلی و پیشه ازاد بخاطر بخور و نمیر در اطراف و اکناف شهر بخود اختیار کرده بودند در اثر نا برابری هایکه دامنگیر ملت است و وجود دارد از دست داده و بیشتر ازین برای شان طاقت فرساینده میباشد تا زندگی نمایند از جانب دیگر موج فساد اداری در عرصه های گوناگون دولت مردم را به ستوه آورده سبب ازار واذیت هموطنان ما را که مرجع پرسان و باز خواست وجود ندارد به شکل از اشکال به اوج خود رسیده و زجر میدهد. روی همرفته از نمایندگان ملت که مظهر اراده مردم افغانستان اند و قبلاً به ایمانداری و مردم دوستی شان ملت رای خود را به آنها سپرده است که همین حالا در پارلمان کشور که خانه ملت نامیده میشود جمع شده اند و تصامیم سرنوشت سازی کشور را به عهده دارند باید با در نظر داشت دردهای ملت بیچاره وغمدیده دقت عمیق بعمل ارند تا این مسئولیت بزرگ را صرف با دریافت پول دالری نادیده نگرفته و به پیشگاه خداوند مسولیت شان خاتمه نیافته بلکه ناگزیر اند در برابر این مسئولیت سنگین که شامل خواست ها واراده ملت مظلوم افسرده خاطر افغانستان قرار دارد جواب ده شفاف باشند میشود تا زوایای مسایل کشوری را در تصمیم گیری شان منحیث افغانان مسلمان و مدافعین صدیق کشور در نظر داشته در بر خورد با مسایل مصلحتی ضمیر و وجدان شان را مدنظر داشته باشند.

محمد زمان بایانی
مامور متقاعد دولت

د افغانستان د نوې کابینې...

تر ټولو ډیرې رایې د روغتیا وزیر ډاکټر سید محمد امین فاطمي وګټلې. فاطمي ۲۱۷ رایې ترلاسه کړې. د کلیو د پراختیا لپاره نومول شوي وزیر احسان ضیا چې پخوا د اتمر مرستیال و د ۲۰۲ رایو په ترلاسه کولو دویم تر ټولو ډیر بریالی کس و.

تر ټولو لږې رایې امین فرهنګ ترلاسه کړې. د کلیو فرهنګ یوازې ۲۰ رایې وموندلې او ۱۵۴ کسانو د دوی خلاف رایه ورکړه.

درجلسه روز پنجشنبه...

یوسف پشتون نامزد وزارت توسعه شهری ۱۲۱ رای موافق، ۱۰۶ رای مخالف و ۱۴ رای ممتنع بدست آوردند که نظر به ارقام تعیین شده نتوانستند رای اکثریت نماینده گان را ازآن خود کنند. شماری از نماینده گان تاکید داشتند که رای تائید این نامزدان نسبت به رای مخالف بیشتر بود، ازین رو باید این نامزدان انتخاب شوند به این دلیل نماینده گان درمورد این سه نامزد در روزهای آینده بار دیگر بحث خواهند کرد.

درین رای دهی سید مخدوم رهین نامزد وزارت فرهنگ وجوانان امین فرهنگ امزد وزارت کار واقتصاد ، حیدر رض نامزد وزارت تجارت وصنایع، گل حسین احمدی نامزد وزارت ترانسپورت و ثریا صبحرنگ ، نامزد وزارت امور زنان مورد تائید نماینده گان قرار نگرفتند. این اولین کابینهء است که ظرف سی سال گذشته ازسوی نماینده گان مردم رای اعتماد میگیرند.

بیا هم - - -

د سپین بولدك ولسوالۍ د یوه تن چارواکي په وینا چې نه یې غوښتل نوم یې واخیستل شي دا چاودنه د جمعې د ورځې سهار وختی پر څلورو بجو رامنځته شوه. نوموړی چارواکې وویل چې چاودیدونکی توکي دګازو په دوو ډبو کې د بولدك ولسوالۍ د ویش په ښوونځي کې ځای پر ځای شوي وو چې د یوی دچاودنې له امله د نوموړی ښوونځي دوه خونې ورانی شوي دي خو دویمه د ګازو ډبه د دوی له خوا ختنی شوی ده. بولدك ولسوالۍ د کندهار ولایت یوه سرحدي ولسوالۍ ده چې د ورځې زیات شمیر افغانان او پاکستاني اتباع په دې پوله تګ راتګ کوي.

دکندز په ولایت...

پرون مازدیګر د ائتلافي ځواکونو یو مسول په جلال آباد کې خبریالانو ته وویل چې کیدای شي وژل شوی کسان بهرني اتباع وي.

کشته شدن...

درگیریها نیروهای امریکایی، ناتو و متحدان افغان آنها با شورشیان مخالف، در این اواخر افزایش یافته است.

این درگیریها، بیشتر در مناطق جنوب و شرق کشور متمرکز است.

روز پنجشنبه نیز چهار شهروند افغانی که برای یک شرکت امنیتیامریکایی کار می کردند، در اثر یک حمله انتحاری زخمی شدند.

حمله کننده انتحاری، در ولایت قندهار، موتر بمبگذاری شده خود را، به سوی موتر حامل کارمندان این شرکت غیردولتی راند و منفجر شد.

در این حادثه، فرد بمبگذار کشته شد.

دستگیری پنج تن ...

این عملیات هنگامی صورت گرفت که گروه طالبان در چهار روز گذشته رفت وآمد موترها را دراین ولسوالی منع قرار داده بودند.

به نقل از صفحه انترنتی پژواک عبدالرحمن سرجنگ قوماندان پولیس ولایت غزنی گفته است که درین عملیات ۱۵ تن از افراد مشکوک را بازداشت کرده اند که درمیان آنان ملا عبدالسلام یک تن از قوماندانان طالبان که حملات چریکی را سازماندهی میکرد نیز دستگیر گردیده است . وی اضافه کرد که حالا مردم میتوانند بدون هیچگونه هراس درین ولسوالی به رفت وآمد بپردازند. این درحالیست که چند روز پیش نیز مسوولان امنیتی آن ولایت برای جلوگیری از انجام هراس افگنانه امر توقف موتر سایکل ها را درآن ولایت داده بودند.

د فاتحې اعلان

د ولسی جرګې پخوانی وکیل عبدالجلیل (ملنګ) او څارنوال محمد نعیم ورونه، عبدلبصیر ستوری او الحاج نصیر ستوری زامن، د پوهنې وزارت پخوانی وزیر پورفیسور عبدالرسول امین، دپوهنې وزارت دعلمي بورډ غړی او دکابل پوهنتون استاد پوهاند ډاکتر محمد قاسم جمدر، دچاپیریال ساتنې مستقلې اداری مرستیال دوست محمد امین دترور زامن، په دولتي چارو کې د ملګرو ملتونو د یونیما ددفتر صلاح کار او دکورنیو چارو وزارت پخوانی اداری معین شاه محمود میاخیل، داودشاه خان مومند ،جمال عبدالناصر،انجینراسدالله عمرزوی، محمد منګل عمرزوی، ډاکتر زمریالی او ډاکتر غلام مقتدر خوریونه، دهوایی قواوومتقاعد پیلوټ ډګروال صالح الله او متقاعد ډګروال عطاالله فقیر اوښی، محمد حسین زمانی او خیرزمان زمانی ماماګان او ددوی کورنی، ټولو دوستانو او خپلوانو ته خبرورکوی چې دهیواد دملی شخصیت ،شاعر او ادیب اروابناد ډاکتر کبیر ستوری فاتحه چې جنازه یې مخکې په کنړ کې د دوی په پلارنی هدیره کې خاوروته سپارل شوی دشنبې په ورځ چې دثور دمیاشتی د دویمې نیټې سره سمون خوری دپل محمود خان سره نږدې دعید ګاه په جامع جومات کې دماسپښین دیوی نیمې بجونه تر دری نیمو بجو پورې دیوی ورځې لپاره اخیستل کیږی.

روح دی ښاد وی

د میدان وردګو د ولایت دمطبوعاتی دفتر لخوا

دملی شورا د وکیلې صبرینا ثاقب پر څرګندونو خواشینی

په میدان ښار کې دولایت مطبوعاتی دفتر په ملی شورا کې دمهاجرینو دوزیر ښاغلی اعظم دادفر څخه دیوی پوښتنی په ترڅ کې دکابل ولایت څخه دشورا وکیلې صبرینا ثاقب پرڅرګندونو کلك غبرګون ښودلی دی.

صبرینا ثاقب ویلی دی چې ګواکې دمیدان وردګو دولتی مقاماتو دقلعه حیدر خان دمهاجرینو ځمکې په پیسو پرنورو خلکو پلورلی دی دمیدان وردګو دولتی چارواکی دغه ادعا له حقیقت څخه لیری او ددوی پرخلاف دبې ځایه تبلیغاتو پایله بولی، همدغسې له صبرینا ثاقب څخه غواړی چې دخپل ولایت پرحدودو ځان خبر کړی، قلعه حیدرخان دکابل ولایت برخه ده او له میدان وردګو څخه دپام وړ فاصله لری.

دمیدان وردګو مطبوعاتی دفتر وایی چې صبرینا ثاقب باید خپلی خبری واخلی او وضاحت یې وکړی که نه وی موږ به عدلی مراجعوته ولاړ شو.

دمیدان ښار دارادی
خبریال

اراده
زیرنظرهیات تحریرانتشار میابد
موسس وصاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول : سهراب دیدار
اراده در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
آدرس: پروان مینه (ایستگاه سینمای بهارستان سرک مسجد حاجی میر احمد خانه نمبر۹۵)
موبایل : ۰۷۰۲۲۲۷۲۶
روزنامه آزاد وملی نشریه مرکزنشراتی افغان
اندیشه وعقاید مطرح شده ازسوی نویسنده گان به خودشان مربوط است
کمپوز و دیزاین: انجینیر محمد جمیل "امیری" و سبحان الله "داودزی"
چاپ:مطبعه مرکزنشراتی افغان
قیمت یك شماره ۳ افغانی

ERADA Daily
Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Founder: Haji Sayed Daud, Chief Editor:Suhrab Didar (Mobil phone :070222726)
eradadaily@hotmail.com
eradadaily@yahoo.com